وهمچنان شما را امت وسطی ساختیم تا بر مردم گواه باشید و پیامبر صلی الله علیه وسلم بر شما گواه باشد

(۸) صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

دمسعود اودهغه دائتلافي جنرالانوله خوا په کابل کي دوي ورځني اوربند مات شو

کابل – دمرغومي ۲۰ مه :

په کابل کي ٤٨ ساعته اوربند چي دپاکستان اوايران داسلامي جمهوريتونو په پيشنهاد منځ ته راغلي وو تيره شپه دمسعوداودهغه دکمونستو جنرالانوله خوامات شو.

له کابل څخه رارسيدلي خبرونه وايي چي دروان کال دمرغومي دمياشتي په ۲۰ مه شپه بوځل بيا ائتلافي خواکونودکابل ښار مرکز اوبيلابيلي ناحيي دخپلو درندواوسپکووسلوتربريدلاندي ونيوي چي په نتيجه کي دښاراوسيدونکو ته درانده مالي اوځاني تاوانونه ورورسيدل .

خبرځاي ليکي چي يوتوغندي دسره صليب درادېو په کوټه لگيدلي اودرانده تاوانونه ئي ورورسولي دي .

دربرخوردهاي کوه تلويزيون

شيرين آغاقوماندان شوراي نظار شديدا زخمي گرديد

پروان – ۱۸ جدي :

خبرنگارمحلي روزنامه شهادت به نقل ازشاهدان عيني گزارش دادکه شيرين آغاقوماندان باندمسعودکه درجنگ اخيرسهم فعال داشت .شديداً زخمي گرديده است . گزارش حاکيست که نامبرده بايك تولي ازافراد خود درتپه تلويزيون توظيف شده بودتابرافراد بيگناه آتش بکشايدمگردرجريان جنگ ده تن ازافرادمعيتي اوکشته وخودش شديداً زخم برداشته است.

شاهدان عيني گفتند که جسدزخمي اورابه شفاخانه چاريکار آوردندمگر نسبت شدت جراحات ،نامبرده را به شفاخانه خاص شوراي نظارواقع پنجشيرانتقال دادند.

شماره مسلسل (۷۳۵) سال شانزدهم شماره (۱۲۳) سه شنبه (۲۱) جدي ۱۳۷۲ هـ ش (۲۹) رجب المرجب ۱٤١٤ هـ ق (۱۱)جنوري ۱۹۹٤ قيمت (۱۰۰) افغاني (۲روپيه)

دهيوادصدراعظم وروړحکمتياردتيري جمعي دلمانځه په لومړي‌خطبه کي په کابل کي د روانو حالاتوپه باب وويل :

دچاپه زړه کښي چي يوه ذره ايمان وي ، هغه بايد ددي وضعي دبدلولوله پاره له هيڅ ډول هڅوڅخه دريغ ونکړي

٦مخ

○ که رباني دجنرال دوستم پرخلاف جهاد اعلاناوه ولي يي په تيروشلومياشتوکي اعلان نه کړ ! ○ دکمونيست رژيم پاتي کمونيست جنرالان تراوسه هم د مسعود اورباني شاوخوا کي راټول دي

○ پدي تيروشلومياشتوکي زمونږ ملك دکاملي بربادي طرف ته روان دي ○ زه داوسني مسير راتلونکي ته خوشبين او اميدواريم ○ ماته حالات داسي بريښي چي دابه وروستي جگړه وي

جمعه خان "همدرد" قوماندان عمومي حزب اسلامي ولايت بلخ :

قوماندانهاي مهم شوراي نظارباحزب اسلامي پيوسته اند

بدنبال فتوحات اخير درولايت بلخ وشکست مفتضحانه نيروهاي ائتلافي درين ولايت ،خبرنگارشهادت دربي کسب اطلاعات مشروح وموثق بود. درين ارتباط ازطرف محترم جمعه خان "همدرد " فرمانده حزب اسلامي درولايت بلخ مخابره يي واصل شد که شرح ان رابه ترتيب ذيل ملاحظه مي نماييد.

راپور بلخ .

تاريخ ۱۸ – ۱۰ – ۱۳۷۲ ساعت ۱۵ ۳: بعدازظهر

۱ – درولايت بلخ عمليات تصفيوي عليه تاسيسات نظامي شوراي نظار به شدت جريان دارد درجريان عمليات قوماندانان مشهور شوراي نظار به حزب اسلامي تسليم گرديده اند .به شرح ذيل :

۱ – قوماندان گلاب خان مسئول غند

۲ – قوماندان محمد نادر خان مسؤل غند .

۳ – قوماندان حسين توپ مسؤل غند.

٤ – قوماندان اميرمحمد توپ مسؤل غند

۲ – ولسوالي بلخ درتصرف کامل قواي حزب اسلامي درآمده است. درولسوالي بلخ وسايل ذيل به تصرف نيروهاي حزب درآمده است.

۱ – پنج عراده تانك غول پيکر باچينداړ

ص ۲

دپاکستان دصوبه سرحد دعلماوو اعلاميه

دافغانستان دتباهي اووراني ټول مسؤليت درباني په غاړه دي

افغان علماؤ له حکمتيار اورباني څخه داستعفى غوښتنه وکړه

دمشرق ورځپاڼه دمرغومي ۱۸ :

په افغانستان کي دجگړي دبنديدولپاره پرون دشنبي په ورځ دعلماؤ دسولي جرگه کابل ته روانه شوي ترڅوهلته دجگړي له دواړو خواوسره دخبروپواسطه دويني توئيدلو مخنيوي وکړي .

ددي جرگي مشري دښاران اسلام دگوند مشرمولانا افضل په غاړه لري . پدي جرگه کي شيخ الحديث مولانا عبيدالله چترالي، دجامعه اسلاميه مهتمم مولانامحمديوسف قريشي، دچترال

(۷)مخ

دائتلافي ځواکونو دوحشيانه بمباريو له امله دپل خشتي دجامع جومات يوه برخه په شهادت ورسيده

امريکا غږ دمرغومي ۲۰

امريکا غږ راډيو دتيري شپي په خبري سرويس کي په پاکستان کي دخپلو خبريالانو له قوله رپوټ ورکړ چي تيره ورځ دنظار دلگي اوهغوي ته وفاداروکمونستو جنرالانو يوځل بيا دکابل مظلوم اوبي دفاع ښاريان ترخپلو وحشيانه بمباريو لاندي ونيول چي په نتيجه کي دښارزياتي سيمي ويجاړي اودپل خشتي دښکلي او جامع جومات يوه برخه په شهادت ورسيده .

نوموړي راډيو وويل چي پدي بمباريو کي په سل گونو دوکانونه اوکوروونه وران شوي اودپل خشتي جومات شاوخواسيمي له خاوروسره برابري شوي او هم دسيمي اوسيدونکو ته درانده مالي اوځاني تاوانونه رسيدلي دي.

دننگرهارجهادي شوری به په اوسنيو جگړو کي له يولوري سره هم مالي او نظامي مرستي ونه کړي

حاجي مولاجان

(۲)مخ

قطعنامه شوراي ولايت لغمان

اداره رباني تسلسل حکومت سابقهٔ کمونيستي بوده و قيام برعليه آن شرعاً جوازاست

به ارتباط حوادث جاري کشورشوراي علماي مجاهد ولايت لغمان جلسه داده واعلاميه يي رابدفترشهادت ارسال نموده اند؛ درين اعلاميه گفته شده که اعلام جهادرباني بي اساس بوده ونماياتگرحس جاه طلبي نامبرده ميباشد .

درقطعنامه مذکورعلاوه شده که دليل اول بي اساس بودن اعلام رباني اين است که به مقابل اومجاهدين ومنظمات جهادي قراردارند . رباني بالاي کساني اعلام جنگ ميکندکه براي حصول حقوق ملت مظلوم ومسلمان افغانستان عمل مي کنند.

دليل دوم اين است که رباني اميرشرعي وعالم مستند نيست که حق اعلان جهادرا داشته باشد. دليل سوم اينکه خودرباني درمعضله جاري طرف مخاصم ميباشد لذافتواي وي صبغهٔ شرعي ندارد. ودليل چهارم اينکه اداره قايم کرده رباني يك حکومت اسلامي نميباشد . دراداره رباني قوانين شرعي محل تطبيق ندارد واين اداره

ص ۲

دائتلافي ځواکونويوه لويه حمله په شا وتمبول شوه

کابل – دمرغومي ۲۰ مه :

له کابل ولايت څخه رارسيدلي رپوټونه وايي چي دوهمه شپه دنظارډلگي او دجنرال بابه جان مليشويوځل بيا دخلورم مکروريانواومحمودخان پله سيمي ترخپلوتعرضي بريدونولاندي ونيوي چي په نتيجه کي دحزب اسلامي مؤمنوغازيانوورته غابس ماتونکي ځواب ورکړ اودهغوي داتعرض يي شاوتمباوه اونوموړي سيمي اوس هم دحزب اسلامي دوياړمنوغازيانوپه لاس کي دي .

ديوه بل خبرله مخي ويل کيږي چي

(۷)مخ

څلورم لمبرمکروريان او پل محمودخان دحزب اسلامي په لاس کی دی

تورن جنرال عبدالقدير "ديدار" له شهادت سره په مرکه کي :

دوروستي جگړي اصلي قوماندهٔ دمسعود اودهغهٔ دکمونستوجنرالانو په لاس کی ده

دحق دلاري داتل شهيدتورن جنرال محمدنعيم « ديدار » وروړ اوډضرب مومن دفرقي رئيس ارکان په داسي حال کي چي ائتلافي اداري له خوادتحميل شوي جگړي د ميدان په اولولیکوکي خپلي حقه مبارزي ته دوام ورکوي دشهادت دخبرال ته ددي پوښتني په ځواب کي چي جگړه دلومړي ځل لپاره چا پيل کړه وويل : په

کابل اودافغانستان په ټولو ولايتونوکي چي کومه جگړه دائتلافيونوله خواپيل شوي داداائتلافيونوپوگډسازش وو ده وويل داجگړه درباني ،مسعود، کاوياني، بابه جان ،فريدمزدك ، محمودبريالي، اوگن شمير نوروکمونستو جنرالانوپه ملگرتيا اوهمکاري پيل شوي اودجگړي عمومي قوماندهٔ دوطن پلورونکي ببرك پرغاړه ده اوغواړي چي دنظارشورا دولگي څخه دضربتي قوي په توگه په هرميدان کي دمجاهدينواوپه خاصه توگه دحزب اسلامي دمجاهدينوپه خلاف کاروااخلي .

تورن جنرال عبدالقدير درياني

دجهاداعلان دوروستي فتوا په باب وويل که څه هم ددي پوښتني پوره ځواب شيخ الحديث مولوي صاحب «تره خيل» اونوروعلماوو په ښه ډول ورکړي، خوزه دومره وايم چي رباني دچاپرضدجهاداعلانوي، حزب اسلامي دمجاهدينوپرخلاف دجنبش پرخلاف اويادکمونستانوپه خلاف اوياد نوروداسلامي تنظيمونو پرخلاف ،که رباني داسلامي تنظيمونو پرخلاف جهاداعلان کړي دابه ورته حتماً دائتلاف اصل مشربيرك مشوره ورکړي وي که دجنبش پرخلاف وي

(۷)مخ

استادرباني دي دملت غوښتني ته لبيك ووايي

دهرکارله پاره څه اصول اوشرايط وي ترڅوپوري چي داصولواوشرايطو لحاظ ونه ساتلي شي يوکارهم سرته نه رسيږي بلکي نقصان ئي له گټي نه څوچنده زيات وي، پرملت حکومت اوامارت کولو له پاره هم اسلام مسلمانانوته اصول اوشرطونه وربښودلي دي چي يومهم اوضروري يښت ئي دمسلمان ملت آراوته رجوع کول اودهغوي رضالاس ته راوړل دي. هر هغه څوك چي دملت، په خوښه اورضا اميرمنتخب شي نوالله پاك دهغه اميرمرسته کوي، داسلام په نظرکي هغه اميردالله خوښ دي چي خلك (رعيت) ئي ترينه خوشاله اوراضي وي، خوبالعکس هغه اميردالله دښمن دي چي رعيت ورڅخه خپه وي او په خلکوپه زوره مسلط شوي وي .

په افغانستان کي موجوده ناآرامي، قتلونه،ځوروڼه ، ولږه،تنده ، نفرت اوبي اعتمادي پدي وجه رامنځ ته شوي چي استادرباني داسلامي اصولو په رڼاکي نه دي منتخب شوي بلکي دسازش رشوت اودوکي له لاري په خلکومسلط شويدي، همداراز تراوسه استادرباني دگردافغانستان وگروته په يوه سترگه ندي کتلي بلکي ديوي خاصي طبقي اوگوندغايندگي يي ترجيح ورکړي ده اودشلومياشتو راهيسي خپل ټول استعداد اوبيت المال ئي دافغانستان مسلمان ولس دعمومي ښيگڼي اوترقي له پاره نه بلکي دخپلي ډلي دگټي اودنوروگوندونودمجاهدينو داخستلواوپوله‌پرسره په جنگونوکي دککرولوله پاره مصرف کړيدي، داستادرباني دغه عمل اودافغانستان له مسلمان ولس سره ددښمني روحيه اوبرهغوي دپوتوراکتونواوتوپونوورول ددي باعث وگرځيدچي په افغانستان کي ترننه پوري امن قائم نه شواوخبره دېته ورسيده چي دافغانستان مسلمان ولس درباني دپرځولوپه خاطرپوملي اسلامي قيام ته ملاوتړله ، دغه قيام نه يواځي داچي ضروري وبلکي دشريعت غوښتنه هم وه ځکه چي داسلام سپيڅلي دين مسلمانانوته داحق ورکړيدي چي دېوداسي جابراوخاين حاکم په خلاف جهادوکړي چي په خلکوپه زوره مسلط شوي وي اودمسلمانانووحدت ته نقصان رسوي په ملت کي تفريق اوتبعيض پيداکوي ، دتيروشلومياشتوراهيسي دافغانستان مسلمان ولس درباني دقانع کولو اودخپلو ناروااووعملونوڅخه لاس اخستلوپه خاطر ديرزيات هلي ځلي وکړي له ډيرصبر اوزغم نه ئي کارواخيست علمونه اوجرگي ورته وکړي چي دملت دتوتي کولو ، ژبني تعصباتوپيداکولو ، دبيت المال له بي ځاي اوذاتي گټي په خاطرله استعمالولو څخه لاس واخلي خواستاد نه يواځي داچي غوږقدري کيښود بلکي ورځ په ورځ لاپکي زياتي راوست ، داستادرباني اودهغه دملگروعمل له طرحه شوي پلان اوحرکت نه داسي معلوميده چي گټي هغوي دافغانستان په ملي ساالميت اووگروني هيڅ پروانشته ددوي يواځيني ستراتيژي داوه چي خلك پخپلو کي په جنگ واچوي اوحکومت ورباندي و کړي ، ښکاره خبره ده چي داستراتيژي بالخوهغه پردي حاکمان خپلوي چي‌حملي په ترڅ کي يوهيوادپي لاندي کړي وي اوغواړي چي دهغه هيواد وگړي په تفرقه کي وساتي يوله بل سره يي وجنگوي اوورباندي حکومت وکړي اوباخوبي

(۷)مخ

دننگرهارپوهنتون دکانکوردازه‌ويني نتايج به ډيرژراعلان شي :

(۸)مخ

سخن روز

یکبار دیگر نقاب ها دریده شد

شاهد

وقایع اخیردرشهرکابل که بااستشاره مسعود وجنرالان کمونست درحومه کابل علیه سنگرهاي حزب اسلامي آغاز گردید ، نقاب ازچهره یکعده مجاهدنماها پائین آورد .

از روزیکه غمنامه ملت زجر کشیده ما درداراالایتام پشاوربه امضا رسید واندکي پیشتر ازآن معاهده جبل السراج بین مسعود وجنرالان کمونیست به رهبري کارمل وطن فروش منعقدشد ، رهبر تیز هوش وسازش ناپذیر حزب اسلامي افغانستان به عمق آن پي برده وبراي خنثي سازي آن کمرهمت بست .

هرباریکه حزب اسلامي براي درهم ریختن پایه هاي لرزان پیمان جبل السراج وارد معرکه با ائتلافیون گردیده، آقایون رهبران جهادي آنرا برادرکشي وجنگ قدرت قلمداد نمودند وبارها گفته اندکه دیگر جهاد به پایان رسیده است. قواي ائتلافي راکه تحت سرپرستي آقایان مسعود وکارمل درزیر پوشش حکومت اسلامي به فعالیت هاي ضد اسلامي وضد جهادي مصروف بودند ، جزء اردوي اسلامي قلمداد نموده وایشان را به القاب وعناوین مختلف ستودند .ولي یکي ازین رهبران یك حرف را هم درمورد ایشان به زبان نیاوردند وسرسختانه ازایشان به دفاع پرداختند، دلیل آن واضح وروشن بود یعني بخاطریکه علیه حزب اسلامي میجنگیدند.

خوب به یاد دارم هنگامیکه مجاهدین حزب اسلامي بابقایاي حزب کمونست وموتلفین مناطق شان مصروف نبرد وستیز بودند ، یکي ازین آقایون انقلابي نما رهبر مجاهد وتستوه حزب رامریض خواند، زیرا به زعم وي دیگر جهاد پایان یافته بود.

طرفداران کارمل دیگر همه مسلمان شده بودند وجزء اردوي اسلامي حکومت ائتلافي به شمارمیرفتند . هنگامیکه جناب رباني بعداز رسیدن به کرسي خیالي واردمزارشریف گردید وبه همین هاییکه امروزعلیه ایشان اعلان جهاد نموده لقب مجاهد کبیر اعطا نمود،تاج وتخت خودرامرهون فداکاري هاي ایشان خواند .ولي یکي ازین رهبران جهادي براي جناب رباني نگفت که به جهاد واسلام خیانت کردي چرا کمونست رابنام مجاهد خطاب نمودي ! دلیل آن واضح وآن بود بدخواهي آنهانسبت به حزب اسلامي اگر جناب سیاف وسائر رهبران درمقابل جناب رباني عکس العمل نشان میدادند، این عمل درحکم نقض تعهدات دارالایتام چمکني بود.

برادرانیکه در وفدهاي میانجیگري بین حزب وجمعیت رفت وآمد داشتند ، بارها گفته اند که درفلان محل هنگامیکه باجناب رباني وسیاف ملاقات داشتیم ، امنیت آن محل بدست کمونیست هاي سرشناس چون بابه جان ،مومن وآصف دلاوربود.

خواننده گان خودشان قضاوت کنند که اعلان جهاد آقایون رباني وسیاف چقدر وزن دارد ؟

چي کسي واقعاً میخواهد که دست جنایت کاران را ازسرملت مظلوم خویش کوتاه کنند. بلي،گلشت زمان محك خوبي است، تاخبیث راازطیّب جداکند.

هنگامیکه جناب رباني سفري داشت به ترکیه ایشان با ارادت خاصیکه به دوستم داشت ایشانرابه کابل دعوت نموده و تاج وتخت خیالي خویش را به جناب ایشان تفویض نمودند و باورودش به میدان هوایي کابل قطعه تشریفات ازایشان پذیرایي نمود، ولي درآن هنگام مثلیکه جناب سیاف بخواب زمستاني فرورفته بود، زیرا هیچ تکان نخوردگویا هیچ کاري ضد اسلام وضد جهاد صورت نگرفته بود.

ولي،درست چند روز بعد جناب مولوي صاحب محمدي ازپشاور وارد کابل گردید مگر از دستگاه رسمي اداره ائتلافي براي خیرمقدم شان درمیدان هوایي هیچکس حضور نداشت ،هیچ رهبرجهادي جز ثبترین عکس العمل نشان نداد که این تفاوت براي چي ؟ برادر بشارت درمجله حریت مي نویسد که باري براي انجام مصاحبه به باشگاه جناب سیاف رفتیم تامصاحبه یي راباایشان انجام دهیم بمجرد رسیدن مابه دفتر سیاف اولین خواهشي که ازمانمودند این بود که درمورد ملیشه ها وکمونست ها ازمن سوال نکنید.

شما این موقف را که دیروز بود باجهاد امروز آقاي رباني وسیاف مقایسه نمائید! ببین تفاوت ره ازکجاست تابکجا؟ راستي هم که مقابله بادیووحشي استکبارکارهرکس وناکس نیست

براي مقابله بآن قهرماناني صادق ومخلص بکار است.

سرسائیدن رباني به آستان حسني مبارک،بجرم مسلماني وتعهدتسلیمي برادران مجاهد مصر به دستگاه کفري مبارك نامسلمان، از نظر استاد سیاف هیچ جرم نیست! خدامیداند که اگر این کارخداي نخواسته ازجانب برادرحکمتیار صورت میگرفت که جناب سیاف چي محشر تبلیغاتي رابرپامیکرد!!

عکس العمل اخیر گروه هاي مختلف جهادي که دربرابر تجاوز مستقیم اداره ائتلافي مرکب از احزاب اتحاد ،شوري نظار وباند کمونست وطن نشان دادند وازمواضع خویش به دفاع پرداختند تااین ائتلاف نامیمون راکه جز غم ، اندوه فقر گرسنگي ونفاق چیزي ارمغان نداردازمیان بردارند.

آقایون رباني وسیاف رابرآشفته نمود وبفکرجهاد شدند. مواضع استکبار به رهبري امریکا این دشمن سوگند خورده مسلمانان ومجاهد نماهاي ذکر شده آنقدر هم آهنگ بودند که صداي شیطاني امریکا همان قهرمان دیروز آقاي رباني رابنام جنرال کمونست رژیم نجیب یاد نمود واعلان جهاد آقایون رباني وسیاف ازطرف شبکه هاي سخن پراگني یهود تائید گردید. علت بازهم واضح وروشن است، این بارحرکت به نفع اسلام بود ویهود ي ها خوب میدانند که چه کسي واقعاً درافغانستان نظام اسلامي میخواهد وچه کساني بنام اسلام وجهاد تجارت میکنند وقایع وجریانات اخیر بعضي حدس وگمان هارابه واقعیت تبدیل نمود وحالا ثابت شد استکبار درصفوف ماتاکدام حد نفوذ نموده وچگونه راه نجات مردم ماراسدمي سازد.

ائتلافی ها لجاجت را کنار بگذارند

محمد حکیم

حالت تاسف آورفعلي درکشوربخصوص جنگ اخیرکه به تاریخ ۱۱ جدي درکابل پایتخت کشوربوقوع پیوست ودرنتیجه آن صدهاتن ازهموطنان ماشهیدوزخمي وهزاران تن دیگرواداربه ترك منازل شان دراین سرماي شدیدزمستان شدند (که همه نتیجه خودخواهي هالجاجت وجاه طلبي هاي آقایون رباني ومسعود وهمکاران کمونست شان میباشد)بالاخره به اثرمطالبه کشورهاي ایران ،پاکستان وسازمان ملل جهت خروج دیپلومات هاوکارمندان سفارتخانه هاي کشورهاي خارجي درساعت شش صبح روزشنبه ۱۸ جدي براي مدت بیست وچارساعت درنتیجه قبول یك آتش بس موقت متوقف شدکه متعاقب آن براي بیست وچارساعت دیگرطي دودوره تمدید وادامه یافت ، که بااستفاده ازاین حالت نه تنها کارمندان دیپلوماتیك کشورهاي خارجي ازکابل خارج شدند،بلکه تعداد زیادي ازشهریان کابل نیزبصوب جلال آبادوسایرولایات اطراف کابل روانه شدند وصرف به همین اکتفا کردند تاخودرا ازآتش جنگ محفوظ دارند .

گفته مي شودکه این آتش بس یك وقفه کوتاه درجنگ است تامصدومین ودیپلوماتهاي خارجي ازصحنه بیرون شوند وقمي توان آنرامقدمهٔ یك آتش بس طولاني ودایمي شمرد .

زیراتاآنگاه که اداره فعلي عوض نشود صلح وثبات درکشوربرقرارنخواهدگردید . شوراي هماهنگي مجاهدین طي چندین اعلامیه خویش به همین مطلب تماس گرفته خواستاربرکناري آقاي رباني ازپست ریاست جمهوري شدند ولي تاجائیکه براي همگان معلوم است انحصارطلبي وجنگ خواهي جز سرشت وفطرت حکام خودکامهٔ ائتلاف شده وروي همین علت است که باوجود سقوط رژیم کمونستي وضعیت کشورمابیش ازگذشته بحراني ترشده میرود.جنگ ها مشتعل مي شوند،دارایي هاي ملي ومردم به غارت برده مي شود وهموطنان مابه مهاجرت هاي جدیدي رومي آورند.ولي حکام لجوج وخودکامهٔ ائتلاف بي پروا به این همه مشکلات کشورومردم ما باخدعه وفریب درصدداستحکام پایه هاي ائتلاف اند وکوچکترین ترحمي بحال مردم مظلوم ومسلمان ماندارند اگرآنهاداراي احساس عالي اسلامي وانساني مي بودند شاید بامشاهده وضع دردناك مردم ما،بخصوص شهریان کابل دراین سرماي شدیدزمستان ازکرسي جنون آمیزقدرت پائین میآمدند ودرراه تعمیل طرح سالم وسازنده براي برگذاري انتخابات وتشکیل دولت قانوني همکاري میکردند .

امابرعکس، زمامداران ائتلاف اکنون برحداعلي جنون قدرت رسیده اند ومیخواهندبازور وتوسل به استعمال بیدریغ بم وباروت برارادهٔ مردم مسلمان ماحاکم باشند وبجاي تحقق آرمان هاي جهادوانقلاب اسلامي وآرمان هاي مقدس مردم مسلمان ماکه همانااقامه نظام اسلامي وبرقراري امنیت سرتاسري است آرمان هاي نامقدس خودرا که عبارت اززیاقي ماندن درقدرت ولوبه هرقیمت باشد تحقق بخشند ودرنتیجه آن همه احزاب وتنظیم هاي جهادي رابزعم وفکرانحصارطلبانه وجاه طلبانه و درنتیجه عملي شدن برنامه هاي شیطاني شان ازصحنهٔ سیاسي ونظامي کشورمحو کنند

بلي،این خواست سابقه وفعلي آقایون رباني ومسعود وسایرهمکاران کمونست شان است تا صحنه قدرت رابراي خود ازوجود سایرین پاکسازي کنند که برهمین اساس تاحال بجاي عمران وآبادي کشوردربي تخریب کشوروکشتارمردم مسلمان کمربسته اند وهرکي براي تحکیم پایه هاي ائتلاف باایشان همکاري کرد عملش جهاد وخودش مجاهد هرکه باعملکردهاي غیراسلامي وغیرانساني ایشان به مقابله پرداخت عمل ایشان طغیان وسرکشي وخودشان باغي میباشدکه اعلان اخیررباني دررابطه باجهاد ناشي ازهمین فکرواندیشه قدرت طلبانه میباشد .

لجاجت وانحصارطلبي آقایون رباني ومسعود موجب شدکه حتي دوستان دیروزشان نیز تیغ ازنیام برآرندوعلیه آنان قدعلم کنند چنانچه جنگ فعلي کابل ثبوت این ادعاي ماست،ولي بیچاره هابراي نجات شان ازهلاکت ومرگ یکدم از چیزي که منکر آن شده بودند به آن روآوردند (ازکمونست هاوجهاد) که تاهمین یکهفته قبل اداره ائتلافي ازپذیرفتن این حقیقت انکارمي ورزیدبارهاحزب اسلامي برهمین نکته اصرارمیکردکه باید همه ادارات کشورازوجوداین عناصرپاکسازي شوند. ولي آنهارانشهٔ قدرت ازشنیدن این آواز بازداشته بود وهرلحظه درفکرجلب همکاري عام وتام کمونیست ها براي ازبین بردن حزب وبخصوص قیادت باتدبیرآن بودندولي خداوند آنچه رامیخواهد عمل مي دهد بناً؛ به خواست خدا (ج) مرتکبین خیانت به جهاد وآرمان هاي مردم ما سرانجام برذلت ورسوایي دچارشدند .

هنوزوقت آنست که زمامداران لجوج ائتلاف براي نجات ازرسوائي مزید وویراني کشوربه خواست برحق مجاهدین لبیك گویندوجاي شان رابراي یك ادارهٔ مؤقت تخلیه نمایند،تابدین ترتیب اسباب وعوامل جنگ هاي تباه کن دیگر درمرکزوولایات کشورازبین برود، درغیرآن مسئولیت همه حوادث بعدي بدوش آنان خواهدبودآنهاباید ازتاریخ پندگیرند وبدانندکه نمي شود بالجاجت وتوسل به استعمال توپ وتانك وطیاره اراده ملت مسلمان راتغیرداد وقدرت راحفظ کرد .

برزمامداران لجوج ائتلاف است تاباعبرت ازگذشته دربي ترمیم خرابکاري هاي سابق شان شوند وازکرسي قدرت پائین آیند ودگران راهم مجبورنه سازند تابراي نجات مردم وکشورشان ازراه نظامي علیه آنان داخل اقدام شوند وآنهارابارسوایي تام ازصحنه خارج نمایند .ائتلافي هابگذارند تاملت خودسرنوشتش راتعین نماید وآرزوي خویش راکه همانا استقرارحکومت اسلامي است برآورده سازد .

پر امریکا باندی دیهودیانو واکمنی

دژوند په مختلفو ځانگو کی دیهودی تنظیمونو ونډه

ترجمه ع.ظفر

(پاکستاني تکبیرنومي مجلي د ۱۹۹۳ کال په وروستي (۵۲) گڼه کي په امریکا کي دیهودودفعالیت په اړوند پر مضمون خپورکړي چي موږيي دهیوادوالو زیات معلومات لپاره پښتو ژباړه خپروو)

اوس داخبره څرگنده شوي چي په حقیقت کي پرامریکا باندي یهودیان حکومت کوي ،چي دغه هیواد کي دیهودودیر غښتلي گروپ موجوددي ،چي نه یوازي دامریکا دکانگرس بلکي د جمهوري ریاست په انتخاباتو باندي خورا زیات اغیزلري .څرنگه چي په تیرو انتخاباتوکي دجمهوري ریاست یوکاندید جارج بوش داشعارهم پورته کړي وچي " اوس پکارده چي امریکا ئیان له یهودوڅخه ځان خلاص کړي "

ددغه کاندید په خلاف یهودي گروپ په پوره فعالیت بوخت و،له همدي امله دبوش دیموکراتیك گوند دکاندید کلنټن په وړاندي ماتي وخوړه ،څکه چي همدغه یهوددکلنټن ترشا ولاړو. سربیره پردي دامریکا یوبل پخواني جمهوررئیس جرالد فورد هم د یهودي گروپ ښکارشو . په امریکا کي دیهودي گروپ داغیزاورسوخ دهغه یهودي اواسرائیلي تنظیمونو څخه څرگندیږي چي په هغه هیوادکي په کاربوخت دي . چي تفصیل یي په لاندي ډول دي:

۱ - " داعلانونو نمایندگي ۶۲ دعتیقه اثارو اوپیدي پوري تړلي اداري . ۸۸ بانکونه او (٤) دمشهوروبانکونو ځانگي ۳۵٤ یهودي مرستندویي اداري چي اکثر یي په پوهنتونونو اوتعلیمي مرکزونوکي فعالیت کوي ۵۷یهودي تعلیمي ټولني ۱۷ دکتابونو کلپونه اوسرویسونه ، ۱٤٦ کتاب پلورنځي ، ۳ هغه کتاب پلورنځي چي اسرائیلي کتابونو ته خاصه توجه لري ، ۱۲ دکلیزو چاپ ځایونه ، ۱۰۷ یهودي خبریه اداري ، ۲۲۸ اسرائیلي خبریه اداري ، ۱۰۳ پوهنتونو نه اوتعلیمي مرکزونه ، ۲٤۲ دعامه اړیکو اداري ، ٤ دکمپیوتر اداري

۷۵ فرهنگي مرکزونه ، ۹۶ پالنځي ، ۸۹۰ سوونځي ، ۲۵ دگونگیانو لپاره مرکزونه ، ۵۶ تعلیمي تنظیمونه ، ۱۲ دتعلیمي وسایلو اداري ، (۱۰) هغه اداري چي ماشومانو ته داسرائیلي موږني ژبي تعلیم ورکوي ، ۱۳ دکاراو ماموریت پیداکولو اداري ، ۲ یهودي دایرة المعارف ، اوداوقافو اداري ، ۲٤۲ هغه اتحادیي چي داجتماعي کارونو اوگټورو بودجي کارکوي

۲ - دمفت لباس دپیداکولو اداري ۵۱ دبي گټي پور ورکولو ټولني ،

۱۳ - دمفت دکان پیداکولو اداري ، ۷ دپانگي ټولو لو نمایندگي ، ۳۵ داطفائیي ځانگي ، (۵۰) روغتونونه اوطبي مرکزونه ، (۸۰) هوټل اورستورانونه ، (۲۱) دامریکا اواسرائیلوترمنځ دتجارت اوصادراتو او وارداتو مرکزونه ، (۲۰) اطلاعاتي مرکز ونه (۲۰) بین المللي اداري ، ۳۲ بین المذاهب اداري ، (۲۰) هغه اداري چي په اسرائیلو کي سرمایگذاري کوي ، ۹۲ هغه تنظیمونه چي مرکز ونه یي په اسرائیلو کي دي ، ۵ داسرائیلي حکومت دسیاحت دفترونه ، (۱۲) داسرائیلي حکومت دتجارت مرکزونه ، ۱۲ مرکزونه په امریکاکي داسرائیلي پروگرامونو دپرمختیا پاره کارکوي ، (۹) قونسلگري ، ۱۱ داسرائیلي حکومت دفترونه ، ۲۹۱ یهودي اجتماعي مرکزونه ، ۱۱٤ یهودي فامل اداري ، ۱۳ لیکچر بیورو ، ۸ دقانوني مرستي پیداکولو اداري ، دیهودي نصاب تعلیم ورکونکي (۲۵۹) اعلي تعلیم والا (۱۰۵) لیسانس ، ٤۲ ماستر ، ۲ دوکتورا والا ، ۳ کتابتونونه اویوه نقشي جوړونکي اداره ، (۳۰) یهودي رادیو او تلویزیونو نه ، ۳۲ موزیمونه (۷) خبري آژانسونه اواتحادیي ، (۳۰۱) جریدي اواخبارونه، (۲۰) اسرائیلي اخبارونه دیهرني ژبي اخبارونه ، (۲۰) دیهرنیو ژبو جریدي ، ۱۱۳ چاپخاني .

۲ - سایښي اداري ، ۳ دکښتي چلونکو اوعسکرو پیداکونکي اداري ، ۹۳ دځوانانو اومحصلینو تنظیمونه ، ۲ داستادانو اتحادیي ، ۶۵ دسفر اوسیاحت دپروگرام تیاروونکي اداري ، ۲ دژباړي اداري ، ٤۳ دفني تعلیم اداري ، ۱۵۷ د ښځو تنظیمونه ، او ۱۱۷ صهیوني تنظیمونه

په امریکا کي دیورته ذکر شوو تنظیمونو اوادارو شمیر تر ۱۹٤۰ کال پوري دي چي د یهودي دایکتري اوالمنسك له خوا په ۱۹۸۶ کال کي تهیه شوي

ددي په تناسب داسلامي تنظیمونو اوادارو تعداد ډیر کم دي ، دمسلمانانو یو لوي اومهم بانك بي ،سي ،سي ، آي و چي صهیونستانو لوټ کر اودشریکانو ۶۰۰ ملیونه ډالره یي ضبط کړل او بي سي سي .آي بي دتل لپاره بندکړ، (بي سي سي آي د ایف ، بي ، اي او سي ، آي ، اي له خوادخپلو مقصد ونو تر پوره کولو لپاره پکار واچول شو) په ماموریتونو کي هم له مسلمانانو سره همداسي امتیازي چلند کیږي چي خرمشالونه یي په لاندي ډول دي:

په ۱۹۸۹ کال کي دنیویارك د جنرال کمپني په برقي ځانگه کي (٤) مسلمانانو کار کاوه پداسي حال کي چي دټولو کارکوونکو شمیریي ۳٤۰۰ ته رسیده په همدغه کال له کمپني څخه ۳۰۰ تنه کارکوونکي اضافه بست شول چي (۳) مسلمان هم پکي شامل و ، یوازي یومسلمان مصري یي پریښودچي داسي ښکاره کړي چي گواکي دوي امتیازي چلند نه کوي پداسي حال کي چي دنوروخمذهبونو خبره مطرح نه وه .په همدي شان د"ناسا" په فضایي مرکز کي (۷۰۰۰) کار کوونکو له جملي څخه دمسلمانانو شمیر یوازي (۱۰) تنه وو.

دلته داخبره دیادولو ور ده چي مسلمانانو ته په هغه اداروکي دپانگي اچولو اویادبرخي اخستواجازه نشته چي له دفاعي چاروسره اړوندي وي . برخلاف اسرائیلیان اکثر کار په همدغو دفاعي اداروکي کوي

همدا راز دبي دالتن په شان ستر ستركتاب پلورنځي اسلامي کتابونه نه پلوري اونه یي ساتي ،هغوي داسي فکر کوي چي ددي کتابویه لوستوسره به دامریکا ئیانو ذهنونه پاك اودرادیو اوتلویزیون تبلیغات به بي اثره شي

****

مردم غرب کابل...

همزمان با گسترش درگیري ها وپیروزي هاي پیهم نیروهاي شوراي عالي هماهنگي انقلاب اسلامي علیه تفنگداران رژیم، تلاش هاي صلح جویانه افزایش یافته وقراراست ابراهیم بکر نماینده سازمان کنفرانس اسلامي ونمایندگان جمهوري اسلامي ایران وپاکستان بمنظور تأمین صلح وآتش بس درافغانستان واردکابل شوند .

پیشنهاد...

حکمتیار صاحب اعلان فرمودندکه اگرآقاي رباني استعفا کندمن هم استعفامي کنم بهترین راهي بودبخاطر تأمین صلح درافغانستان .

بدینوسیله یك حکومت بیطرف تحت سرپرستي آقاي مجددي درکشوربمیان میآید اکنون هم یك حکومت بیطرف تحت ریاست آقاي مجددي بمیان ایدوزمینه براي برگذاري انتخابات مساعدگردد. آنها قبول نکردندتامادست شان را بمواضع مادرازنمودند وجنگ را آغاز کردند. حالاما ناگزیردفاع مي کنیم . ولي ماطرفدار آتش بس موقت هستیم تاصلح تأمین شود و مجروحین جنگ وکارکنان ملل متحد وسایردیپلومات ها ازکابل خارج شوند مامیدانیم که جنگ خسارات اقتصادي دارد ولي ناگزیریم ازخوددفاع کنیم .

ازانجنیرمهدي پرسیده شد که دولت رباني شمارابه همدستي بانیروهاي رژیم سابق متهم کرده واینکه این حرکت همزمان باتاسیس حزب خلق وپرچم آغازشده نظرشمادرین مورد چیست ؟ وي گفت من خیلي متاسف هستم که شخصیت هاي که ازطریق رادیومارامتهم مي کنند خودشان بامقامات بزرگ خلق وپرچم رفاقت وقرابت دارند مثلاً داکترعبدالله که مارا متهم کرده وفعلاً درپاریس بسرمیبرد خودش برادرانجنیر نسیم که جنرال بزرگ وسابقه دار نجیب است وباکارمل سروکاردارد وهم چنان پسرخاله فریداحمدمزدك است و سابق هم عضوارتباطي خاد رژیم نجیب بوده است واوفعلاً مارامتهم مي کند درحالیکه مزدك ، کاویاني ، محمودبریالي . وهمکي درپهلوي شان هستند . من به این موضوع حیران هستم زمانیکه رهبرجنبش ملي به کابل رفته بود درآن موقع رباني سفري به ترکیه داشت ورهبرجنبش رابه صفت سرپرست ریاست جمهوري درارگ گذاشت وخودش به ترکیه رفت .

قوماندانهای مهم شورای نظار...

۲ - چارمیل دافع هوا.

۳ - چارمیل هاوان

٤ - شش پایه زیکویك .

۵ - صدها میل اسلحه خفیفه درمرکز ولسوالي بلخ درتصرف نیروهاي انقلابي حزب قرارگرفته است.

۳ - سلسله تسلیمي پسته ها ، گروپ ها ، قرارگاه ها وقطعات عسکري شوراي نظار به حزب اسلامي جریان دارد . مناطق وسیع چارسنك ،ثمرقندیان ، ده قاضي ،ده راضي اوله ملك ، ماشي نگاري ،چهل گزي ،پلاس پوش ،،هیواد وغیره درولسوالي هاي بلخ ونهرشاهي درتصرف نیروهاي حزب اسلامي قرارگرفته است.

هکذا درولسوالي دولت آباد مناطق یخدان وخوش آباد که مراکز عمده شوراي نظار بود توسط نیروهاي حزب اسلامي اشغال وتصفیه گردیده است.

٤ - از ده ها قوماندان شوراي نظار صرفاً علم خان وقوماندان عطا مؤفق به فرارگردیده اند که به گمان اغلب بصوب خلم ولایت سمنگان فرارنموده اند . متباقي همه قوماندانان شوراي نظاربه قواي همآهنگ احزاب اسلامي تسلیم گردیده اند.

۵ - قوماندان جمعه خان "همدرد " ازمرکز ولسوالي بلخ - عملیات وامور تصفیوي وتنظیم مجدد امور نظامي واجتماعي رادر اطراف ولسوالي بلخ ، دولت آباد ، شورتپه وچاربولك رهبري وسازماندهي مینماید.

٦ - ضابط عبدالحلیم "خنجر" معاون قوماندان جمعه خان درمناطق چهل گزي وقرأ متصل شهرمزارشریف امور تصفیوي را سازماندهي مینماید و دوعراده تانك غول پیکر را دراین ساحه هم به غنیمت گرفته است

۷ - برادران مجاهد قاضي امیرجان ، مولوي عبادي وانجنیر مهدي درشهر مزارشریف امور راسازماندهي مینمایند.

۸ - دراولین روز تعرض قواي شوراي نظار برمرکزحزب اسلامي - ۳۸ تن ازمجاهدین مربوط به قوماندان جمعه خان "همدرد"بمقام والاي شهادت نایل گردیده اند.

٤۲ تن ازمجاهدین جمعه خان "همدرد " جراحت برداشته و ازجمله مجروحین دوتن ازقوماندانان هریك صوفي غني ومحمد حسن به شهادت رسیده اند .

قوماندان جمعه دین "قفیریار" مسؤل غند شهید صوفي امیرگل در روز اول تجاوز نیروهاي زوال پذیر شوراي نظارجراحت برداشته اکنون لله الحمد وضع صحي وي اطمینان بخش است .بااحترام

۹ - حوالي ساعت سه بجه دیروز طیارات بم افگن شوراي نظار وائتلافیون ، اطراف میدان هوایي مزارشریف راشدیداً بمبارد نموده که خساراتي بهمراه نداشته است.

اداره ربانی...

صلاحیت ولیاقت تامین امنیت وحقوق مردم را نمیتواند داراباشد .

درقطعنامه ضمناً آمده است که رباني زماني دوستم راالقاب بلندبالا میداد ووي رابه صفت سرپرست ریاست جمهوري میشناخت وجنبش راجزء اردوي اسلامي تلقي میکرد، ولي اکنون که منافع خودغرضانه اودرخطرافتیده علیه جنبش اعلام جهاد میکند وافراد کمونیست مثل بابه جان ،نبي عظیمي ، آصف دلاور، محمودبریالي ،کاویاني ، داکتر عبدالرحمن وامثالهم رادرپهلوي خودفراموش میکند. دراعلامیه گفته مي شود: ذرایع ابلاغ اداره رباني پروگرامهاي غیرشرعي رانشر میکند.کمونیست هادراداره مذکورموتلف وشریك بوده وخلاصه این حکومت تسلسل نظام سابقه کمونیستي میباشد وقیام علیه آن صحیح وشرعي است .

دراخیراعلامیه آمده است عامل اصلي این جنگ رویهٔ انحصارطلبانه اداره ائتلافي وشخص مسعود میباشد وخواست مردم مظلوم ومجاهدافغانستان این است که استادرباني بلاقیدوشرط استعفابدهد تابه توافق تمام رهبران جهادي یك حکومت اسلامي قایم شود .

دراخیر قطعنامه ذوات محترم ذیل امضا نموده اند :

۱- مولوي محمودشاه « تبلوي» خطیب مسجد جامع ولایت لغمان

۲- مولوي محمدعمرخان

۳- مولوي عبدالصبوروحدتیار

٤- مولوي گل احمد

۵- مولوي رشتین

٦- مولوي محمدابراهیم « خلیلي »

۷- استاد جمعه خان

۸- مولوي عبدالظاهر

۹- مولوي محمدجعفرخان

۱۰- مولوي نعمت الله

۱۱- مولوي محمدیوسف

۱۲- مولوي شاه ولي خان

۱۳- مولوي شاه محمود خان

۱٤- مولوي حضرت الدین

۱۵- مولوي جان آغا

۱٦- مولوي محمدطالب «کماندر»

۱۷- مولوي عبدالحق حقیار

۱۸- مولوي عبدالستار

۱۹- مولوي محمدحنیف

۲۰- مولوي محمدابراهیم

۲۱- مولوي عبدالکریم

۲۲- مولوي عبدالمنان

۲۳ - مولوي عبدالمجید

۲٤- مولوي رحیم الله

۲۵- مولوي غلام حسین

۲٦- مولوي عبدالقدیر

دننگرهار...

جلال اباد - ۲۰ جدي :

دشهادت درنولوستونکودوحدت ورخپاڼي په پروني گڼه کي یوخبرخپورکړي ؤچي دننگرهار ولایت جهادي شورا دروان کال دمرغومي دمیاشتي په نولسمه نیټه دجلال آباد په ښارکي یوه غونډه درلوده اودوي دخپلي غونډي په ترڅ کي فیصله وکړه چي دریاني دجهاداعلان روااو برحقه دي اوموږدرباني ددي اعلان ملاترکوو .

دشهادت خبریال په دي هکله دننگرهاردجهادي شورا دغړي حاجي مولاجان ته پوښتنه وکړه چي هغه ورته په ځواب کي داسي وویل :

هوربښتیاده چي موږپه همغه تاریخ غونډه درلودله خوداخبرچي دوحدت ورخپاڼي نشرکړي دي بالکل دروغ دي ،موږپه نوموړي غونډه کي دافیصله وکړه چي له رباني سره پخواني کمونستان دي اوحزب اسلامي ته هم هماغه کسان راغلي چي تیرونه پوري دهغوي ترڅنگ ولاړوو . اوهغوي ورته داسلامي پوځ بوه برخه ویله ورورمولاجان وویل چي په دغه غونډه کي دا فیصله وشوه چي دننگرهارجهادي شورالکه څنگه چي دمتحاربوډلوپه منځ کي یي همیشه دمینځگري توب دنده ترسره کړي اوس به هم دیخوایه شان دمینځگړتیا چاري ترسره کوي له دواړوسره به هیڅ ډول مالي اونظامي مرستي نکوي .

ورورمولاجان زیاته کړه چي دننگرهارجهادي شورابه نه اوس اونه به په راتلونکي کي په دغه شان جگړوکي برخه واخلي . محترم مولاجان زموږدخبریال ددي پوښتني په ځواب کي چي تاسودهغومهاجرینوپه باب چي دجگړوله امله ننگرهارولایت ته راځي کوم تصمیم نیولي دي وویل چي موږدشوراپه نوموړي غونډه کي په دي موضوع باندي اوږدبحث وکړ اودافیصله موکړه چي بایدپاکستان دکمشنري مقاماتوسره په تماس کي شوهماغه وو چي داکارموکړ اوهغوي موږته وعده راکړه چي موږدټولو خبریه موسسوله استازو سره خبري کوو چي داموضوع حل کړي اوژرترژره مهاجرینوته امدادي سامان راورسوي چي خوشبختانه نن دوه دري موټره مواد پردغوبي وزلو مهاجرینوباندي ویشل شوي هم دي . اوبله دافیصله وشوه چي دغومهاجرینو ته باید دسرشاهي په دوسرکه کي یوکمپ جوړشي چي ژرترژره دوي هلته ځاي پرځاي شي چي داکاراوس په چټکي سره روان دي .

روش خصمانهٔ غرب دربرابر مسلمانان جهان

ترجمه "منيب"

ازابتداي اسلام تابه امروز علماودانشمندان عيسوي درتلاش اند تادين مقدس وبي آلايش اسلام رابه گونه يي نابودكنند، زيرا دين اسلام دربرابر آيدياوفرهنگ عيسوي هاحيثيت ديوارآهنيني رادارد كه عمل كرددربوسنيا مثال عمده يي از تعصبات مذهبي غرب راتشاندهي ميكند.

« رچردكوندا » دركتابش «مانچورين كنيديدبت» مي نويسد :« امروزكه كمونيزم ازجهان رخت سفربربسته است ، خطربزرگ ديگري رادرپيش رو داريم كه اسلام است » . آقاي پائب درمضمونى تحت عنوان « اسلام آمد » نوشته است : خطرجدي يي ازجانب مسلمانان متوجه امريكائي ها واروپايي هاست ».

چون اسلام جهاد را فرض عين قرارداده است غرب باددرنظرداشت ذهنيت پرتعصب اش ازآن چنين استنباط نموده كه اسلام نامي ازجنگ وكشتار مي باشد .

نيم قاره هندراتصرف نمودند ازجذبه واحساس جهادمسلمانان هميشه ابراز خوف وخطرمي نمودند . انگريزهاجهت زدودن اين جذبه مقدس ازمسلمانان يك پيغمبردروغ گو(غلام احمدقاديانى) را به تراشيدند تافريضه جهادراازاذهان مسلما نان بزدايد واين پيغمبركاذب بايد چاكري انگليس هارا مي نمود امااونتوانست جذبه جهاد راازاذهان مسلمانان خارج سازد .

عصبيت وتنگ نظري درغرب نسبت به مسلمانان بيشتردرممالك صنعتي وپيشرفته (فرانسه و جرمني) ترويج يافته است ،درحاليكه همين مسلمانان بودند كه پس ازبربادي وتخريبات جنگ جهاني دربروسه اعمارمجدد اين دوكشور(فرانسه وجرمني) سهم فعال گرفتند . باوجوداين كارمسلمانان، آنها هيچ توجه درحق مسلمانان بجرم مسلمان بودن نكردند ، وحتي آنهارا موردآزارقراردادند ،كه ازقتل وغارت مسلمانان گرفته تابه آتش كشيدن خانه هاي شان شامل است .

سرنوشت مسلمانان درامريكاهم بدترازداستان آنهادراروپاست. ازسال ۱۹٤۰ ميلادي تابه روززوال كمونيزم ، اتحادشوروي سابق حيثيت دشمن بزرگي رابراي امريكاداشت ، درآن وقت كمونست بودن به معني داشتن مرض «ايدز» بودكه بايدجامعه ازشرآن نجات مي يافت . امريكاوجهان غرب اگرچه باممالك كمونستي روابط دپلوماتيكي داشتند ولي مي كوشيدند تاكشورهاي اسلامي باآنها هيچ كدام رابطه سياسي، اجتماعي واقتصادي نداشته باشند. اما بااضمحلال اتحادشوروي وضع كاملاً تغيير كرد.

«سندي تيلگراف » مي نويسد، پس ازاينكه دشمن بزرگ (اتحاد شوروي) ازبين رفت به اين نتيجه رسيده ايم كه دشمن جهاني ديگرغرب اسلام است .

يك محقق ديگراروپايي مي نويسد: توام بااختتام اتحادشوروي اين خطرپيداشده است كه اردوي اسلامي يك باردیگربه دروازه هاي «ويانا» وپاريس برسد . گفته شده است كه عساكرتركي درسال ۱٦۸۳ به دروازه «ويانا» رسيده بودند وقبل ازآن درپاريس هم اخذ موضع نموده بودند، قدم گذاشتن مسلمانان درويانادپاريس ازاذهان عيسوي هافراموش نشده ، درين فكراندكه باآغاز انقلاب هادرايران، الجزايروبوسنيا طاقت ونيروي مسلمانان باردیگرمنظم شده اروپارا درهم خواهندكوبيد.

سندي تايزمي نويسد: خطريمان وارسا ديگرختم شده ولي خطراسلام به اوج خودرسيده است ، براي غرب است تاجهت جلوگيري ازتوسعه بنيادگرايي اسلامي چنان اهتمام نمايد مثليكه دربرابركمونيزم نمود. پس جواب جذبه واحساس جهاددرچيست ؟ جهت اختتام جذبه جهاد حتي به عيسوي مذهبان روسيه مشوره داده شده كه مسلمانان ساكن روسيه را ازبين ببرند وهكذا دشمنان درصدداند تامسلمانان به پاخواسته دربوسنيا ،بلغارياوالبانيا رادرهم بكوبند . علت هم همين است كه اروپاوامريكا باوجود بلندكردن صداي سكولريزم (الاديني) ازقتل عام مسلمانان دربوسنيا نه تنها ممانعت نكردند، بلكه باتهيه سلاح هاي وافربراي صرب هاوقطع اسلحه بربوسنيايي هاقتل وكشتارمسلمانان راساده وسهل نمودند. پس ازخاتمه مسلمانان هسپانيه ازجنوب اروپا عيسوي هابه اين نظراندكه نام ونشان مسلمانان را ازجمهوري هاي بالقان ازبين ببرند .

اروپاوامريكاازدوطريق ازمسلمانان احساس خوف وخطرمي نمايند : اول ازتعدادي ازممالك اسلامي يي چون ليبيا وايران كه بالفعل عمل مي نمايندوثانياً ازآنعده مسلمانان ساكن اروپا وامريكاكه فعلاً ازمنطقه مهاجراند وحالا جهت تبديلي رويه ، روش واخلاق آن جامعه مصروف كاراند . براي آخرين باركه مسلمانان براي عيسوي هاخطرثابت شدند، ۳۰۰ سال قبل (۱۹۸۳) عيسوي بودكه ترك هابه منطقه ويانا (آستريا) قدرت شانرا استحكام بخشيدند وتابه امروزيادكاررواياي هاي مسلمانان دراذهان مردم آنجا جاگزين است . بنا: غرب به تشويش است تامبادا اسلام باردیگردراذهان مردم احيا نگردد !

براي اينكه درممالك اروپايي طرزحكومت جمهوري است ،جرمني به تشويش است كه تاسال ۲۰۰۰ ميلادي مسلمانان ترك نژاد درجرمني همه به قدرت برسند .

نفوس مسلمانان درجهان درحدود يك مليارد ميرسد ودر۳۲ كشورجهان ازلحاظ نفوس مسلمانان به ۸۵ فيصد مي رسد ، يازده كشوراسلامي بين ۲۵ الي ۸۵ فيصد نفوس دارد ودر٤۷ كشورديگرنفوس مسلمانان از۲۵ فيصدكم است .

ازسوي ديگراگربه تولدوتناسل مسلمانان نظراندازيم يك زن مسلمان بصورت اوسط شش طفل درجامعه تقديم مي كند، ولي يك زن عيسايي بصورت اوسط ۱.۷ طفل به جهان مي آورد . اين مسئله هم كه نمايانگرازدياد نفوس مسلمانان است ، سبب تشويش دشمنان اسلام گرديده است . امروز مسلمانان درامريكا بين (۲۰۰۰۰۰۰) الي (۳۰۰۰۰۰۰) نفرودراروپا يازده مليون مي باشد. ان شاء الله تاسال ۲۰۰۰ ميلادي مسلمانان درجهان منحيث دومين قدرت تبارزخواهندكرد .

همين دلايل است كه غرب ازنفوس روز افزون مسلمانان درهراس شده درصدداست تابه هرنحوي كه شود جلورشد آنهارا بگيرد، ولي متاسفانه ازجانب مسلمانان وكشورهاي اسلامي درزمينه هيچ توجهي صورت نمي گيرد . خداكندكه مسلمانان ازاوضاع بحراني خويش بصورت دقيق واقف گرديده درجهت رفع مشاكل امت و دفع وطرد پلان هاي خصمانه دشمنان غربي وشرقي تدابيرلازم اتخاذ نمايند. انشاء الله

داسلامي نړۍ مشاهير

شيخ محمد محمود الصواف

ژباړه : نجيب الله "محمد پور"

شيخ محمدمحمود الصواف دعراق دموصل په ښاركي په ۱۹۱۵ م كال كي زيږيدلي ۇ. دنبيري اونسب لړي ئي دعربي جزيري دطي قبيلي ته رسيږي،نوموړي چي په يوه علمي اوديندار كورني كي سترګي غړولي دخپلو لومړنيوزده كړو لپاره ئي دموصل دعلماؤ په وړاندي دادب ګونده ماته كړه ، وروسته ئي دفيصليه ديني مدرسه ولوستله .

دزاخويه ښاركي دښوونكي په حيث وټاكل شو، نوموړي ښاردعراق اوتركيي په پولوكي پروت دي،بياني مصرته سفروكړ اوپه ازهرشريف كي ئي پخپلي پاتي زده كړي بشپړي كړي، په دريوكلونوكي ئي دازهرشريف بري ليك ترلاسه كراووروسته ئي په شرعي قضاكي خپلي ځانګړي (تخصصي) زده كړي سرته ورسولي اوهلته به مصركي ئي داخوان المسلمين په ګوندكي غړيتوب هم په برخه شو.

نوموړي په عراق كي دانګريزي استعمارپه خلاف دجهادتوغ اوچت كړ اوبغداد او په موصل كي ئي خلك دانګريزانوپه ضدپاڅون لپاره را وهڅول دده دشاګردانوځيني ديرونيول شول خوهيڅ جاهم اعتراف ونه كړ اوځيني شاګردان ئي له ښوونځيوڅخه وشړل شول .

* ده يوه تولنه الشبان المسلمين په نامه جوړه كړه، په مسجدونوكي به ئي وعظونه كول، دموصل اودموصل په ګوټ ګوټ كي ئي دخپل خوځښت دپياورتيا لپاره په ډيراخلاص سره هلي ځلي كولي .

* په مصركي ئي دامام حسن البناسره ناسته پاسته وشوه اوداخوان المسلمين په ګوندكي دغړيتوب په وياړويارمن شو، دعراق دمسلمانانوپه ځال او احوال باندي ئي يوه بيانيه واوروله چي وعده ئي پكي وكړه چي داخوان المسلمين غورځنګ لپاره به په عراق كي ئه ستري كيدونكي هلي ځلي كوي ، دغه بيانيه چي دامام حسن البناسره ئي دتعهد حيثيت درلود، اوددي په پنست كله چي شيخ محمدمحمودالصواف عراق ته راوګرځيد دعراق په هرښاركي ئي داخوان المسلمين دګوندڅانګه پرانيستله اونوموړي ئي عمومي ځارونكي (مراقب) غوره كري شو .

دهبورت سموت « دمعاهدي (ترون) نه وروسته داوسني عراق په تاريخ كي دلومړي ځل لپاره سپين لنګوټي لرونكي علما، دبغداد او نورو عراقي ښارونوپه كوخوكي په سپين دګرواځرګنداوپه واګه ئي ددغه ترون مخالفت وكړ... ازهري عالم دتخت اوتاج خښتن اوصدراعظم خپل مخاطب ګرزول په خپلي علمي اوجنابي خطبي سره چي داخلاص نه ډكه وه شيخ محمدمحمود الصواف اوملګروته ئي الله تعالي داتوفيق ورويابنه ، چي نوموړي ترون بي اثره كړي كه څه هم دشيخ جزاء دزندان تياري وټاكلي شوي .

* دفلسطين په جهادكي ئي په مالي اوځاني جهادكي ښه خوره او مناسبه ونډه واخيستله ، دخپلو نوروځاهدو وروڼولكه مصطفي السباعي محمدعبدالرحمن خليفه (داردن داخوان المسلمين اوسني مرشد) اوكامل الشريف سره په څنګ كي وردېداوه متجاوزصهيونست رژيم په ضدئي دخپلوشاګردانوپه ملتياګدون وكړ .

* په عراق كي دكمونستو ديرلاسي نه وروسته شيخ محمدمحمودالصواف دخپلومجاهدوورونواوشاګردانوسره يوځاي درژيم په خلاف ښه په ميرانه ودريداوددغه پوچ اوبي بنسټه فكردواكمنوسره ئي دغري ووهلي .

* له هغوسختوكړاووڅخه چي په نوموړي راغلل ترلومړي ئي شام اووروسته يي سعودي عربستان ته هجرت وكړ، په مدينه منوره كي ئي دخپل استادشيخ احمد الزهاوي سره كتنه وشوه اوهمدارنګه دملك فيصل سره ئي هم ليدنه وشوه ، ملك فيصل شيخ محمدمحمود الصواف دخپل استاځي په حيث غوره كراوشيخ صاحب ۳۸ بيل بيل ملكونه وليدل .

* افغانستان ته هم دملك فيصل داستاځي په دودراغلي ۇ.

* دافغانستان داسلامي برحق جهاددتينګوملاتړوڅخه ۇ .

* هركال به ئي دتركيي دمسلمانانو څخه ليدنه كتنه كوله .

* ديوسنيالس زره يتيماني ځوبي ئي تركيي ته داسلامي روزني لپاره راوستي .

* هغه به ويل چي قدس شريف به هيڅكله هم هيرنه كرو، غواړوچي په ګتلوكي ئي دشهادت مرتبي ته ورسيږو. همدارنګه به ئي ويل چي جهادپه مال اونفس داروفرض دي .

* په ګن شميرتاليفاتوسربيره ، درابطه عالم اسلامي په جوړښت كي ئي ونډه درلوده .

* دغه نامتومجاهد د۱٤۱۳هجري كال دجمادي الاخريه مياشت كي دتركيي په استانبول كي دفاني دنياڅخه سترګي پټي كري . اناالله وانااليه راجعون

دنوموړي جسدپه مكه معظمه كي دعبدالله بن زبير ترڅنګ خاورته وسپارل شو.

په رباني صاحب دخپل فوځ جزء راپاڅيدلي !

دشهادت دورځپاڼي محترمو اوقدرمنوكاركونكو اسلام عليكم ورحمة الله وبركاته !

خداي تعالي مودموتر سره روغ جوړ اوداپان په خوشحالي خوشحاله لره.

وبعد : محترمو ورونو زه هميشه دشهادت شهيدپروره ورځپاڼه مطالعه كوم اودمطالعي ته يي ډير خوند اخلم ځكه چي داورځپاڼه دفي سبيل الله مجاهدينو دكفرمانونكي آواز انعكاس دي. دازما اولني خط دي اميد دي چي نشرته يي وسپاري .

رباني صاحب كه جهاد كول غواړي نودده استعفا وركول ښه جهاد دي . دافغانستان هميشه مجاهد ولس چه داستاذ رباني دخولي نه دجهاد اعلان واوريده نوددير تعجب نه ګوته په خوله پاتي شول . ځكه چه همدغه رباني اومسعود ۇ چي دهمدي دوستم محمود بريالي جنرال مؤمن جنرال بابه جان نبي عظيمي اونوروسركرده كمونستانو سره په جبل السراج كښي يي شرمه معاهده دافغانستان دمجاهد ملت په خلاف امضاكړه اودكمونستانو په ائتلاف سره يي ديونيم مليونو شهيدانو آرمان دپښولاندي كړ .

ټول كمونستي جنرالان په خپلو وظيفو باقي پاتي شول اوخپلو جنايتونو ته يي دمسلمانانو په مقابل كښي ادامه وركړه ددوستم مليشه يي دشبرغان بندر اومزارشريف څخه په كابل رانښته اودمجاهدينو په مقابل كښي يي .

تراوسه پوري استعمالوله

كوهي مه كينده دبل سري په لاركښي

چيري ستابه دګوهي په غاړه لارشي .

هندي رباني صاحب دوستم ته دوزارت دفاع دمعاونيت پست پيشنهاد كړ خو هغه ونه مانه اوكه چا به ددوي په باره كښي كرمه خبره كوله نورباني صاحب به ويل چي هوش كوي دادداسلامي فوځ جز دي . نوچي پلاربانى صاحب دخپل فوح جز راپاڅيده نويه دي كښي حكمتيار صاحب څه ملامتيا لري حكمتيار صاحب خوهيڅكله كمونستانو ته داسلامي حكومت جز ندي ويلي كوم امتياز يي ورته ندي وركړي.

بلكه دېخوايشان يي دجهادفريضه دهميشه دپاره جاري ساتلي ده . داخورباني ۇ چي دكمونستانو دشكست نه وروسته يي كمونستانو ته اعزازونه وركول درباني په دي سياست دافغانستان دمجاهدملت دزړه نه برخداي (ج) خبر ۇ.

درباني صاحب سياست په دي پونيم كال كښي ټول داسلامي ، جهاد ، شهداء ، اومجاهدينو دروحيي په خلاف و دهيڅا خبره يي نه منله دملت سره يي كوم ارتباط نه لرلو .

ټول مصلحتونه يي دكيرجن مسعود اوكمونستوجنرالانو سره ۇ .نوهمدا وجه وه چي درباني صاحب په حكومت كښي د شهيدانو د آرمان پوره قدري هم نه ۇ.

نورباني اومسعود ته زه داويم چي هرسړي دقدرت په وخت كښي معلوميږي دامكروفريب اومداري توب مونورته چليږي - خداي ته وګوري خلك په اوركښي مه سيزي په دي خو ورځو مجازي پاچاهي باندي آخرت مه بربادوي رباني صاحبه دادجهاد اعلان بيا هله وكړه كله چه درياست جمهوري دمقام نه كوزشوي.

بيا چي بل حكومت دټولو تنظيمونو په خوښه جوړيده نويه زوره اعلان وكړه چي ګوري زه نوركمونستان په قدرت نشم منلاي نو په مقابل كښي بي جهاد اعلانوم . تومونږيه وواپوچي محترم استاذ رباني صاحب بيرته دخداي تعالي لاري ته راګرځيدلي دي.

له طرفه دسيدصلاح الدين منصف مريزوال له ريګ شاه مرادخان څخه .

دپېښور دباغبانانو له كمپ څخه خبر خواه دوكاندار دشهادت ورځپاڼي اداري ته سلام اوليك رالبرلي اووايي چي دازمادريم ليك دي چي دنشر لپاره يي درليږم هغه دوه ليكونه ته دي نشر شوي خو داليك حتمي راته نشر كړي.

دباغلي خبرخواه دوكاندارد ليك عمده موضوع دښار وال صاحب څخه ګيله ده دوي داوايو دنشتوالي په هكله خپل مشكلات وړاندي كړي اووايي چي يوتانك اوبه دي مور. ته راګرشي څكه چي په باغبانانو كي داويو يوه ذخيره ده چي له هغي څخه پوليس څا ته اوبه نه وركوي.

شهادت :

ښاغلي خبرخواه دوكاندار:

ستاراليږلي ليك مونشر كړ خداي (ج) دي وكړي چي ښاروال صاحب ستااليك ولولي اوبه دي هكله له خپل توان سره سم ستاسي مشكل ته په غور پاملرنه وكړي ، خوزمونږ مشوره داده چي تاسي پوځوګسان ښار وال صاحب ته ورشي اوله نژدي څخه خپل مشكل ورته وړاندي كړي كيداي شي هغوي ستاسي دمشكل درفع لپاره اقدام وكړي.

ستاخوښه

دجلوزودكمپ اوسيدونكي سردارمحمدصادق

له سلامونو سره ليك دي راورسيد

دسلامونو ځواب درته په وعليكم السلام وايو.

دشهادت سره ستاسي مينه اوعلاقه ښيي چي له خپل كړيدلي ملت سره ژوره اندېښنه اوخواخوږي لري

دورځپاڼي دجمع كيدو په هكله به درته ووايو چي كه نمايندګي لري اويااقرارداد ،دي كړي وي نومسؤلو كسانو ته وسپاره اوكه دي له بازارڅخه اخيستي وي هغه ستا خپل شي ځكه چي دي خوښه وي هغسي وكړه ،خوددغسي علمي اثاروسائل به ستاسي په كټه وي. اداره.

شهادت يو اجتماعي اخباردي

محترم دشهادت داخبارټولو زياركښو مجاهدينوته دزړه له كومي سلامونه اواحترامات وړاندي كوم .

بعداً : وروسته دسلام اواحتراماتوڅخه دا ځما لمړي خط د ي چي زه يي دشهادت اخبار ته لېږم ، مافكركاوه چي دشهادت اخباريه يواځي دحزبيانو نظريات نشر وي لكن ماته په ثبوت ورسيدله چي دايواجتماعي اوملي اخباردي اوټولو

په تياروكي رڼا

ورورنجيب الله دشهادت اداري ته له سلامونو سره يوځاي څه ليكنه هم رالېرلي ده ، چي موږيي سلامونو ته وعليكم السلام وايواودليك ځيني برخي يي دده دتشويق لپاره خپروو.

اسلامي امت په هرځاي اوهرګوټ كښي داسلام ددښمنانو دلاسه په زياتو تكليفونو اومشقتونو خپل ژوند تيروي مونږ مسلمانان څومره ډير يو څومره زيات اسلامي ملكونه دي خوبومسلمان يااسلامي ملك ددي مسلمانو ورونو دخلاصون لپاره كوم اقدام ونه كړاونه يي دهغوي خلاصون لپاره څه فكراوسوچ وكړ.

په هندكښي دبابري مسجد ړنګول اوهمدارنګه دهغي ځاي په مسلمانانو باندي بي رحمانه ظلم دكشمير په بي وزله اومظلمو مسلمانانو باندي چي دهندي واكمنانو له خوا كوم ظلمونه كيږي نوقلم يي دليكلو نه عاجزدي.

همدارنګه په بوسنيااوفلسطين كښي چي دمسلمانانو كوم حالات دي نو ډير دخفګان اواضطراب وړدي.

له بلي خوا نه امريكا غواړي چي په ټولو اسلامي ملكونو باندي خپل حاكميت حاصل كړي اودي مقصد ته درسيدو دپاره بي مسلمانان په هرځاي اوهرګوټ كښي په رنګارنګ كورنيو اختلافاتو اوجنګونو اخته كړي ترڅو مسلمانان كمزوري كړي چي ونشي كړي دسبا دورځي دپاره دامريكا په سر تندر شي .

نوددي دپاره مسلمانان بيداروال اوبه ايماني جذبه اوايماني قوت باندي سمبالول پكار دي ترڅومسلمانان حاكم شي.

يوتانك اوبه

هيوادوالو اودهرتنظيم كسا نوته بي پكي برخه وركړي نو اميدلرم چي څما پدي خط سره ځمايه شان نوروكسانو ته دهمدي خط په ذريعه علاقه زياته كړي اويه ښودرلدو الفاظو بي نشركړي.

نظر : څرنګه چي دحزب اسلامي موقف يو لوي سياسي نظامي اوايدياوژي موقف ده اودخپل مومن ملت عمومي خيراوښيګڼي په نظر كي لري .

نوځما په نظر دهغتي دوورځي (۲٤) ساعته اوريند يوبل دپيترولواوراپيداكول دي كه چيري دكابل خلك شهر تخليه كړي نو دجنګ ميدان به دمردكيو د توغولو صحنه وګرځي اودكابل سكلي تعميرونه اوملي ذخاير به ټول له منځه ولاړشي.

ځما مطلب دادي چي حزب اسلامي دخپل دفاع په خاطر په دي كشتي كي يوځاي سفرلري.

ولي بي دااوريند ورسره ومانه او كه يي ورسره منلي نو بايد دپاكستان اوداپران او نوروواسلامي هيوادونو په ضمانت يي ورسره دايمي اوريند منلي واي.

دپښه ديري دكمپ څخه تورن خوشحال "خوشبين " اوتورن محمد انور.

شهادت :

محترمو ورونو هريوتورن خوشحال "خوشبين" اوتورن محمد انور –سلامونو ته مو وعليكم السلام وايو اونيكي هيلي اواحترامات مو دزړه په مينه منو.

ورونو : ستاسي رالېرلي ليك موكټ مټ نشركړ اومونږ ډير خوشحاله يو چي شهادت اخبارده‍ري ورځي په خپريدو سره دحقيقتونو اوواقعيتونويه ويلو ددوستانو اوواقعبينو مسلمانانو ورونو دواقعي غوښتنو په انعكاس كي بريااليتوب مونډلي .

اوخپل سكلي حقيقي نظريات مو، ته رالېږي ، الله تعالي دي موږته پدي نيكه غوره كري لاركي نور هم توفيق راپه برخه كړي دداسي حق پلوه ورونو دټولي دزياتيدو په هيله .

والسلام.

دنشرور

محترم ورور غلام حضرت سنيوه وال !

ليك ، سلامونه ورسره يوځاي رااستولي شعر دي راورسيد دليك اوسلامونو له راليرلوڅخه دي شكر په زمونږ له ووږ هم سلامونه قبول كړه.

ستاسي دمظلوم فرياد ترعنوان لاندي رالېږلي شعر مو ولوست اوزڅخه مو خوفرده نشر ته وسپارل .

حيران يم لويه خدايه ستادنيا كي داڅه كيږي . ظلمونه دي ظلمونه

عجيبه تماشه ده مسلمان پكي قتليږي .

ظلمونه دي ظلمونه

اميد دي چي دخپل شعر په دي نشرشو كرښو خوش اوله مور. سره خپله قلمي رابطه جاري وساتي .

مننه

خوانندة عزيز محمد اسماعيل از وزيرستان !

اداره شهادت ازچند سال به اينطرف پروګرام پست شهادت رابذمه ندارد شما مي توانيد كه يكي ازدوستان تان رادرپشاور توظيف بپست شهادت بكنيد.

بقيهٔ انعكاسات...

عيبم هنروكمال بيند

خار م گل وياسمن نمايد.

كودشمن شوخ چشم بي باك

تاعيب مرابه من نمايد.

بجز از خداوند (ج) هيچ انساني كامل نيست عيب ونقص دارد ،چه حزب شما واعضاي حزب ، چه ساير تنظيم ها چه انسانهاي عادي ،ولي شما خوش باشيد كه دشمنان شما ازشما انتقاد سالم براي اصلاح وبهبود بعمل آورند نه آنكه شما را باتعريف وتوصيف بي جا وبي مورد به آسمان ببرند ونزد رقيبان خوار سازند.

دورنيست كه دولت وحكومت حقيقي اسلام توسط مردم مسلمان افغانستان روي كار بيايد ،اين مردم هستند كه بالاخره تصميم مي گيرند، نه راكت وتوپ وتانك. اينمردم هستند كه سرنوشت خود را خود تعين مي كنند ونمايندگان حقيقي خود را بجامعه براي خدمت پيش كش مي كنند نه خارجيان كه دولت وحكومت براي افغانها بسازند.

لذا نماينده مردم اشخاصي خواهند بود ، كه ازبين جامعه برخاسته دردهاي مردم رابدانند وتداوي افغاني نمايند،نسخه هاي صادرشده ازخارج براي تداوي مريضي كه درافغانستان است موثرواقع نميشود پس ما به طبيب افغان وافغان شناس طبيب ضرورت داريم .

ونه رهنمايي بيگانه گان .

بيائيد ازواره روزنامه خود كه ستوني بنام انعكاسات دارد ودرچندين شماره آن روي گنجشك ناگرفته (ظاهرشاه) قلم پردازي مي شود كه يكي خود را دوست وديگري دشمن معرفي مي كنند.

وهم درستون نامه هاي وارده ازافغانهاي اصيل وطن پرست كه بفضل خداوند باوجود چارده سال‌جهاد يكتعداد آن زنده اند ودلشان براي وطن خراب شده شان مي سوزد درېخشهاي مختلف مثلاً اولي درواه تأمين صلح بخصوص درشهركابل كه به ويرانه تبديل شده نظرخواهي كنيد،درمورد احيا ي مجدد افغانستان، درمورد زراعت نابود شده افغانستان، درمورد اقتصاد ويران شده افغانستان، درموردطرق تعليم وتربيه سريع براي افرادبي بيسواد يكه چارده سال ازنعمت درس وتعليم بي بهره بودند ، درمورد ايجاد يك اردوي اسلامي غير حزبي وغيرتنظيمي كه حافظ ونگهبان خاك ووطن ماباشد.

